


فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا


د نشر نيټه : ۱۷ اپريل ۲۰۱۳ ميلادی

# لښکر لښکر د بخت سړي دې ډېر شه

دا څو ورځې ډير ناروغه وم هغه د چا خبره طبيت مې بيخي خړو. خواړه مي زړه ته نه کيدل ذهن مې يو ډول کشمکش سره مخ و،ملګري مي هم په زړه وريدل څه سرته به مو درد ورکوم بيخي ستړی غوندې وم.

مازديګر مهال و کورته راغلم دمه مي وکړه له ستړيا وروسته مي کمپيوټرروښانه کړ ماويل د نيټ نړی ته به هم سر ورښکاره کړم پښتو ويب پاڼې چې ډيره مينه ورسره لرم هره ورځ يې د ليدو ليواله يم.

داخل مي چي د خپلې خوښې پاڼه تاند خلاصه کړه يو خبر مي واوريد چې په غتو ټکو يې ليکلي و(دميرمن کلتوري ـ ټولنيزبهير د۱۳۹۲کال دلومړئ غونډې رپوټ) خبر مي ټول ولوست خدای ج شته ډير خوښ شوم چې د نارينه وو ترڅنګ زموږ افغانو نجونو او دادب مينوالو لکه څنګه چې پخوا د ادب په لاره کې ښې ځليدلي دي او زياريې ايستلی دی داځل يې هم خپلې غونډې پسې وغځولې.

که څه هم د ميرمن بهير د غونډو دځای ستونزو د دوی غونډې ځنډولي وې خو بيايي هم په ډيرو ستونزو غونډه په پخواني ځای د ښوونې او روزنې وزارت په کلوپ کې وکړه.

په ريپوټ کې ليکل شوي و چې له دې وروسته به د ميرمن کلتوري ـ ټولنيزبهير غړې د کتاب ښار دغونډو په تالارکې سره راټوليږي او خپلې اونيزې غونډې به همدلته کوي خوښې مي نوره هم زياته شوه داځکه چې بهيروالې نور دځای له ستونزو خلاصې شوې او اوس به په ډاډه زړه غونډې کوې.

ياران دې ژوندي وي با احساسه مفکرين دې تل بريالي وي استاد نجيب منلی او عطا الله خان حيران دوی دې کور ودان وي چې دوی ته يې دغونډو لپاره دځای اسانتيا برابره کړه يادو با احساسو مفکرينو نه يواځې د ميرمن کلتوري ـ ټولنيزبهيرلپاره يې ځای ورکړی بلکې د افغان ادبي بهير لپاره يې هم ځای برابرکړی دی .





کتاب ښار نه یوازې داچې کتاب پلورنځی دی،بلکې خپل کتابونه هم چاپوي تردې دمه يې پنځه عنوانه کتابونه چاپ کړي دي. د کتاب ښار مسوولین که په میاشت کې نه شي د اونی یوه فرهنګي غونډه جوړوي ،چې ښې بیلګې يې څه موده وړاندې پکې دشهید امان الله سیلاب ساپي د کتاب ( کنډولي) او دسعید زابلي د کتاب (ستوروته ناست یم له سیتاره سره) مخکتنې وشوې. سربیره پردې وخت ناوخت پکې ادبي او فرهنګي غونډې هم ترسره کیږي.

موږ داسې پښتانه مشران لرو چې په پیسو يې بانکونه پړسیدلي دي بلا بلا موټرې،جایدادونه او د تاج محل غونډې ښکلې بنګلې لري خو د احساس د دارایی فیصدي يې په صفر کې ده موږ داسې مشران هم لرو چې یوازې د سر درد او اشتها د نه لرلولپاره بهرنیو هیوادونو ته د تداوی لپاره ځي.

بس پاسپورټونه يې په جیب کې پراته وي چې وغواړي هرساعت د چکرلپاره د نړی هرګوټ ته تللی شي خو دهغو بې وزلوخلکودستونزو او چیغو لپاره بیا داسې خلک نلرو چې د یوې ګولې ډوډی لپاره خپل بچیان پلوري او ور سره مرستې وکړي،بیاچې داسې روڼ اندي اولکه د غره غونډې د لویې حوصلې خاوندان چې د خپلې ژبې د ودې لپاره هرډول مالي اوځاني قرباني ورکوي هغه هم چې کم امکانات ولري په ډیر کم شمېر سره پیدا کیږي.

زه وایم چې راځئ نور دیوبل له وینو تویدلو تیرشو،یوبل ته په ستونزو کې لاس ورکړو خپلې ژبې،خپل هیواد او خپل فرهنګ د ودې لپاره هرډول قرباني ورکړو.
زموږ دادب دلارې لارویان چې په وړیاډول خپل هیواد،خپلې ژبې او خپل فرهنګ ته په داسې شرایطو کې کارکوي چې له یوې خوایې د کورنی اقتصادي وضعه ښه نه وي او له بلې خوا په هغو سختو فرهنګي ستونزو کې خپل ادب ته کارکوي چې زموږ غونډې پښتنو سیمو کې ورته ډیرستونزمن دي.
زموږ ورونه اوخویندې چې څومره په شوق او ذوق سره د خپل هنر څرګندولو لپاره له لرو او پرتو سیموڅخه راځي ډیره د حیرانتیا خبره ده.

دوی غواړي د خپلې سیمي او خپل هیواد دسولې ناره تر نړیوالو ورسوي او ورته ثابته کړي چې افغانستان دسولې ټاټوبی دی نه دجنګ او جګړې، داسیمه د علامه خادم ، سید جمال الدین افغان، ګل پاچا الفت، ډاکترنجیب الله او همدا ډول نور ورته سیاسي مبصرین او مفکرین لري .

موږ داسي لوړ استعدادونه لروچي دنړۍ په کچه برياوۍ لرلی شي ،زموږ دا هريو ورو او خور دهنرپه مټ کولای شي د نوبل جايزې وګټي اونړيوال شهرت ترلاسه کړي؛خو افسوس چې زموږ په ګران هيواد افغانستان کي د هنر ارزښت او جوهر ترپښو لاندې شوی اوځای يې ټوپک سالاری او خپل منځي وژنو او دوښمنيو نيولای،دوښمن تل موږ لکه د سپيو غوندې سره په جنګ اچولي يو او پرموږ يې سيالی جوړې کړې انعامونه او ګټې تل دوی وړي دي.

ځوان شاعر طايرځلاند وايي:

په تندي مو هر څوک خپله نعره ليکي
موږ د دې ښار ديوالونه بې شعوره

که د شاعر په خبره موږ لکه د ديوالونو غوندې همداسي بې شعوره او ويده پاتې يو نو زموږ همدغه دوښمنان چې موږيې سره خپلوکې اچولي يو تل به همداسي په موږ حکمراني کوي او زموږ هيواد به تل دنړيوالو لپاره د جنګ او جګړې دميدان په توګه ګرځيدلی وي.

زه په ټولو هغو ملي سوداګرو او مشرانوغړ کوم چې دکتاب ښارد مسوولينو غوندې خپل احساس را څرګند کړي او هرډول مرستې د هيواد د فرهنګي اوعلمي ستوڅخه ونه سپموي ترڅو ادب او فرهنګ مو وده وکړي هيواد مو د پرمختګ خواته روان شي،ملي يووالی مو تامين شي او بيا به زموږليونی دوښمن  د جنون په نېشه کې هيڅکله هم پرموږ خوله ونه لګوي.

په پای کې د کتاب ښار له مسوولينو استاد نجيب منلي او عطا الله خان حيران غرونه غرونه مننه کوم چې د ادب د لارويانو لپاره يې د غونډو ځای ورکړی دی د کاروان صيب په دې شاعرانه وينا خپلې ليکې پاک رب ج ته پورته کوم او ورته د دعاګانو هيله کوم.

دا چم کودر په ښکليو پاک لمنو پيغلو ډک شه
تورزن زلمي لښکر لښکر دبخت سري دې ډېر شه
« کاروان »

*****

فريد احمد  « تسکين »
پکتيا کور، ګرديز

بازگشت به صفحه اصلی  –  www.said-afghani.org